آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۲/۰۳

# لارورکي لارويان

## پنځه ديرشمه برخه

### د ډنمارک مرکزي پنډغولی

( سندهولم )

موږ دري تنو ملګرو (آصف، فضل او ډګروال کبير) د ټکسي په وسيله ځانونه د ريل تمځي ته ورسول. موږ غوښتل چي ټکټ واخلو او ځانونه د کوپنهاګن د ريل ګاډي مرکزي سټيشن ته ورسوو، خو پر موږ باندي د پوليسو ډار داسي حاکم شوی و لکه د افغانستان د خلکو پر ستوني باندي د جګړي تور بوټ؛ په داسي حال کي چي که زما د نا بلدتيا مسأله نه وای او پوليسو يا نيولي وای او يا مو خپله ځانونه ور تسليم کړي وای، زموږ سرګرداني کميده، ستونزې او ډار مو له منځه تلل.

د ريل ګاډي د تمځي په اړخ کي لوی دکان و، د تيليفون د پيدا کولو په موخه زړه نا زړه ور ننوتو، که ګورم دکانداران آسيايي ټيپ لري، له رنګه تور زبيښلي وو. ما فکر وکړ چي بنګله ديشيان به وي، خو دوی بنګالي نه ويله، بلکي په اردو ژبه يې خبري کولې.

انډيوالانو مي هغه خبره چي په جرمني کي را ته کړې وه (هلته ته خو په انګليسي لږ پوهيږي، کوم موټروان سره وغږيږه چي...)، بيا را ته تکرار کړه:

«هندي فلمونه خو به دي کله، کله ترجمه کول، اوس يې وخت دی وغږيږه!»؛
ما ته زما د استاد حبيب الله حاج پښتونزوی خبره را ياده شوه. حاج صاحب به په خپل خاص اندازسره کيسه کوله چي څو تنه انډيوالان د ژمي په بيکاری کي د خواری غريبی له پاره د پاکستان يا هند داسي ځای ته تللي وو چي هلته څوک په پښتو نه پوهيدل، اردو ژبه يې ويله. د انډيوالانو په ډله کي د يوه تن، کوم نيم ګوډ او مات اردو لغات زده و، هغه د اردو د زده کړي لافه کړې وه؛ هلته په رسيدو سره يې انډيوالانو ورته و ويل چي ستا خو اردو زده ده، د مګری خو بل څه نه شو اختلاوی، دا توت بيه کړه.

د اردو والا چي يوازي د «هي» توری زده و، وړاندي شو، غاړه يې تازه کړه،وې ويل:
«دا توت پاو په څوهي؟»

زه هم هک حيران شوم چي په دي ګډوډ رواني حالت او سټريا کي دا سری څه ډول پوه کوي چي موږ ته لږ تر لږه لاره وښيي.

خير، زړه نا زړه ور نږدي شوم او په ګوډه ما ته اردو مي د مرستي غوښتنه ځيني وکړه. دکاندار هم د اردو په اوريدلو تعجب وکړ او يو وا ربي په بيړه، له سره تر پښو پوري له نظره تير کړم، بيا يې زما د لاري ملګرو ته همداسي په حيرانتيا وکتل. زموږ سر او وضع په رښتيا هم ډيره خرابه او د حيرانتيا وړ وه. بوټو نه په ختو ککړ، پايڅي تر ځنګانه لمدي، بدن او جامو مو د خولو له لاسه نمجن بوی کاوه.

دکاندار پاکستانی و، اول يې د خپلو وطندارانو خيال را باندي وکړ، پوښتنه يې را نه وکړه چي پاکستانی يې؟
ما ورته و ويل:

نهي بايي صاحب! مي برباد رفته افغانستان کا ايک آواره پټان هو.
سړی غلی شو، بيا يې له نظره تير کړو. شيبه وروسته يې د دکان د شاتنی کوټي وره ته لاس ونيو او وې ويل هلته ننوزئ، آرام وکړئ، تشناب شته، سر او وضعه مو لږه سمه کړئ، مخ لاس مو ومينځئ او د کاليو ختي مو پاکي کړئ.
دا حالت د پاڼ او پرانګ حالت ته ورته و، له خوف او رجا سره ور ننوتو. «مار چيچلی له پړي ډاريږي» دا تشويش هم راولويد چي پاکستانيانو خو په خپل پلرني وطن او لاره کي هم چيچلي يو، چي دلته نيش و نه کاروي او پوليس را


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

باندې خبر نه کړي. په همدې فکر کې وم چې پاکستاني د چای غټ ترموز او پیالې په لاس د دکان پسخاني ته را ننوت، په داسې حال کې چې په آسیایي دود یې میلمه پالنه کوله، په خندا، خندا یې ما نه و پوښتل:
- اردو دې چیرې زده کړي ده؟

- ډیر ستومانه ښکاریږئ او...
ده غوښتل چې د خپلو پوښتنو لړی نوره هم وغځوي، خو ما یې خبرې په یوه ستړې خندا ور غوڅې کړې او ورته ومې ویل:

د جګړو او ورانیو توفان زموږ د ژوند کاروان داسې سره اړولی را اړولی دی چې موږ فک رکوو چې موږ ځای پر ځای ولاړ نه، بلکې مخ په ځوړ روان یو، هسې د ونو د وچو پانو په څیر طوفان هوا ته جګ کړو او د تصاوف له مخې یې دلته را وغورځولو.

ده چې زموږ ستړیا او نا امیدی ته وکتل، وې ویل:

تاسو تشویش مه کوئ، زه تر خپلې وسې مرسته در سره کوم. تاسو په ډنمارکي ژبه نه پوهیږئ، په ریل کې مه ځئ، چې څه ستونزه در ته پیښه نه شي. په دکان کې زما وظیفه په دولسو بجو خلاصیږي، زه هسې هم د کوپنهاګن خوا ته روان یم، تاسو به مرکزي ستیشن ته ورسوم، که په کوپنهاګن کې څوک پیژندګلو لرئ، تیلیفون ورته وکړئ، چې مخې ته مو راشي، وروسته له هغه به تاسو ته لار در وښیي. تیلیفون یې زموږ په مخ کې کینسود او خپله و وت.

د پاکستاني دکان تقریباً څلویښت کیلومتره د کوپنهاګن د ریل له عمومي تمځي څخه لرې و. پاکستاني به یا نه پوهیده او یا به یې زړه پر موږ سوځیدلی وي. بې قانونه او بې اسنادو خلک یې په خپل موټر کې کینولې او بل ځای ته یې لیږدوي. که زموږ د لیږدونې پر مهال پولیسو نیولای وای، د قاچاقبر په نامه به یې هر څه تباه شوي وای. پرته له کومې پیښې پاکستاني څلویښت کیلومتره لار و وهله او موږ یې د کوپنهاګن د ریل مرکزي ستیشن ته ورسولو چې زه یې ترنن ورځې پورې ځان پور وړی ګڼم. زما انډیوالان په بلې خوا لاړل او زه لاړم د ډنمارک د مهاجرینو عمومي کمپ ته. زړه نا زړه د سندهولم عمومي دروازې ته ورنږدې شوم، کتل مې چې د نوکریوالی په کوټه کې یوه میرمن ناسته ده. ما سلام وکړ، هغې هم په سلام زما ځواب را کړ. ما په انګلیسي ژبه ور ته وویل:

زه مهاجر یم، زه له افغانستان څخه راغلی یم او...

زړه مې درزیده چې اوس لکه د جرمني پولیس ځواب را نه کړي چې «زه دې د وطن وران والی او ودان والی څه کوم، له هغه ځایه چې راغلې یې، بیرته ور وګرځه»؛ خو ښځې را ته و ویل:

ښه راغلې،ستړی مه شې!

مخامخ ولاړ شه، لږ ښی لاس ونیسه، شلمه ودانۍ پیدا کړه، هلته د نایټ آفیس په نامه دفتر دی، هر څه به در وښیي. هلته ورغلم، همدا جملات مې هغوی ته هم تکرار کړل.ا سناد یې را نه وغوښتل، هغه مې ور وښودل، یوازې زما نوم او د رارسیدو نیټه او ساعت یې ثبت کړل. بیا یو تن را سره شو، برستن، توشکه، روجایې، بالښت، کاشوغه، پنجه، ګیلاس یې له یوه استعلام سره را کړل او بیا یې د ډنمارک د مهاجرینو د عمومي پنډ غولي (سندهولم) څلور شپیتم نمبر کوټې ته بوتلم. دا کوټه نه وه تیار منده یې و، دوه سوه دوه پوړیزه اوسپنیز کټونه په کې پراته وو. په اصل کې دا لوی صالون د والیبال، باسکتبال او هند بال له پاره جوړ شوی و، خو دوی د نویو راغلو مهاجرینو د اوسیدو له پاره کاراوه.

ما ته یې یو کټ او یوه الماری را وښوده. دا وخت غرمه وه، ما سره راغلي سړي د ځوړنځي پر خوا وخوځولم، استعلام یې را په یاد کړ او را ته وې ویل:
په هغه صالون کې ډوډۍ خوړل کیږي، هلته کولای شې دا پاڼه ور وښیې او ډوډۍ وخورې.
له ډوډۍ خوراک نه تیر شوم، بیرته کوټې ته لاړم، بستره مې سموله چې یو دنګ زلمی مې خواکې ودرید، پوښتنه یې را نه وکړه:

افغان یې؟
ما و ویل هو افغان یم.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

هغه چې څو ورځې مخکې راغلی و، لږ بلد و، ما ته یې مصلحتآ و ویل چې دلته نور بهرنیان ډیر دي، ټوله شپه یا خاندي او یا غږیږي، په عذاب به شې. بستره دې، دې بل کټ ته راوړه، دلته ټول افغانان دي.

ما له زلمي نه پوښتنه وکړه چې د جنرال شمس په نامه کوم افغان راغلی دی که نه؟

هغه و ویل هو راغلی دی، دا یې بستره ده، همدا اوس د باندې و وت، زه به یې اوس را پیدا کړم. شیبه وروسته جنرال شمس را پیدا شو. له روغبړ نه وروسته یې ټولو افغانانو ته ور وپیژندلم، بیا مو د لارې د ناکردو کیسې کولې. په ډنمارک کې د مهاجرینو لومړنی او عمومي پنډغولی (سندهولم) پخوا کومه عسکري قطعه وه، ډیر لوی انګړ، ډیرې ودانۍ، واټونه او ښکلی بڼ یې درلود، ما او جنرال شمس د سندهولم په انګړ کې ګرځېدو، مرکه مو کوله چې ورو، ورو نور پیژندګلوهم را پیدا شول د لارې ملګري، فردین، فرشته، د کابل دوستان او په پای کې مې استاد رسول جلالزی ولید.

استاد جلالزي د کابل پوهنتون د ژورنالیزم په پوهنځي کې استاد او په دهبوري کې یې زموږ په ګاونډ کې ژوند کاوه. دی هم په همدې ورځ له خپلې کورنۍ سره سند هولم ته را رسیدلی و. زه یې وپوښتلم چې کومې کوټې ته یې ور کړی یې؟

زه چې لا د کوټې په نومره نه پوهیدم، د لاس په اشاره مې له لرې ور وښودله چې هغې کوټه کې یم. ده نا څاپه و ویل:

ته خو یې شور بازار ته ورکړی یې. ما ویل هوکې شور بازار کې پروت یم، نه یې شپه مالومه ده او نه یې ورځ. څوک ویده، څوک ویښ، څوک خاندي، څوک ژاړي، څوک چُرت وهي، څوک بې هدفه ښکته پورته روان وي؛ بس تیار پل باغ عمومي دی. در ې شپې ورځې مې په همدې کوټه کې تیرې کړې، وروسته یې بیا بلې کوټې ته بوتلم چې د لسو تنو له پاره په کې ځای و.

په سندهولم کې له انتریو او رسمي کارونو نه وروسته، د دوه زرم کال د دسمبر په لسمه نیټه د ډنمارک شمالي برخې فریدریکس هاون نومي ښار ته ولیږل شوم چې هلته د «هو» یا «نه» ځواب ته شپې ورځې تیرې کړم.

د پنځه دیرشمې برخې پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ